

# په زړه پورې کربنې

راټولوونکی: فضل هادي ستانکزی









# په زړه

# پورې

# کربني

ټولوونکی
فضل هادي ستانکزی


بسم الله الرحمن الرحيم

**هر کس نه ملامتوم، یواځې هغه کسان ملامتوم، چې د خپل ځان پر ځای نور ملامت ګڼي.**

**د کتاب ځانګړتیاوې:**

**........................................................................................**

| | |
|---|---|
| **د کتاب نوم:** | **په زړه پورې کرښې** |
| **را ټولوونکی:** | **فضل هادی ستانکزی** |
| **ډیزاین:** | **انجینر آغا ذهیر تسل** |
| **شمېر:** | **۱۰۰۰ ټوکه** |
| **د چاپ وار:** | **لومړی** |
| **چاپکال:** | **۱۳۹۹ لمریز** |

**اړیکه: ۰۷۸۰۷۹۳۳۳۸ /۰۷۶۶۶۵۹۴۴۹**

**ایمیل: fazalhadif @ gmail 76.com**

# ډالۍ:

په لومړي قدم کې،

زما ګران مور او پلار ته!

په دویم قدم کې،

ګرانه لوستونکیه تاته!

# سریزه

شروع کوم په نوم د هغه ذات، چې هر څه يې په قدرت کې دي او هيڅ يو شی بغير د هغه له اجازې څخه نه کيږي. عاجز بنده يو بل په زړه پورې کتاب را ټول کړ. که څه هم په ژوند کې انسان له ډيرو غمونو، تلکيفونو او سختيو سره مخ کيږي. سره له دغو ستونزو هيڅ يو انسان بايد خپله هيله له لاسه ورنکړي او خپله روحيه کمزورې نکړي. کوم هدف يې چې ټاکلی وي، ځان ورته ورسوي. هر څه کيدونکي دي؛ که چيرته يو کس کلک عزم وکړي. کله په ژوند کې دومره خپګان رباندې راشي، چې ليکنه خو څه کوې، له ژوند نه مې زړه تور شي؛ خو بيا هم زړه ته ډاډ ورکوم او په مات زړه ليکنه کوم او دوام مې ورکړی وي. ځينې شپې چې له دندې نه را ستون شم، داسې د ستړيا احساس کوم، لکه په اوږو باندې مې چې غر بار وي. پوهيږم د يو انسان دنده يواځې دا نه ده، چې سهار ووځي او ماښام کور ته له يوې مړی حلالې ډوډۍ سره راشي، بلکې هر انسان بايد د راتلونکي نسل لپاره هم يو څه وکړي. له ګرانو لوستونکو نه په درنښت هيله کوم، چې عاجز بنده په دعا کې هير نکړي. په دې کتاب کې ما لومړۍ د نبی عليه سلام څلويښت حديثونه ذکر کړي، کوم چې د هر انسان لپاره راته اړين ښکاريدل. ځينې ځايونه مې حديث ليکلې او ورسته د ليندیو (قوسونو) په منځ کې مې د هغه تشريح کړې ده. تر څو هر چا ته اسانه شي او ښه ورباندې پوه شي. وروسته مې د بهرنيو مشهورو پوهانو ويناوې کومې زياتې په زړه پورې راته ښکاره شوي راخيستي. هيله لرم چې له لوستلو څخه يې خوند واخلئ. په دې کتاب کې ما خپل بندګي زيار ويستلی، چې غلطی يې سمې کړم. بيا هم انسان عاجز دی، داسې نشې کيدای، چې کوم کار وکړي او له هر ډول نيمګړتياوو نه به خالي وي. نور مو وخت نه نيسم دا تاسې او دا هم کتاب.

## د نبي علیه سلام  په زړه پورې ویناوې:

**۱- مجلسونه امانت دي.**

( په هر مجلس او هر چیرته چې کینې، د هغه مجلس خبرې په بل مجلس یا بل ځای کې مه وایه. لکه څنګه چې یو څوک په امانت ډول تاته یو څه درکړي، د هغه څیز ساتنه پر تا لازم دی، همدرانګه د بل چا د راز او خبرو ساتل هم پر تا امانت دی.)

**۲- دعا د عبادت مغز ده.**

(لکه څنګه چې مغز د انسان لپاره اړین دي، همدرانګه دعا هم د عبادت سره اړینه ده. الله پاک په قرانکریم کې فرمايي: «تاسو چې زما نه غواړی، زه یې قبلوم.» له دې ایت څخه دا هم څرګندیږي، چې هر څه باید له الله پاک څخه وغواړو. کله چې بنده له الله تعالی څخه د څه غوښتنه کوي؛ نو عقیده یې نوره هم قوي کیږي او دا فکر کوي، چې هر څه او د هر څیز ورکونکی الله پاک دی. په دعا کې دوه څیزونه ډیر اړین دي؛ یوه دا چې کله دعا کوئ؛ نو فکر مو بل ځای ته مه پریږدئ. څومره دې چې وس کیږي، عاجزي کوه. ځینې خلک داسې دعا کوي، چې فکر یې یو ځای وي، سترګې یې یوه او بل ولوري ته اړوي.)

**۳- سړی به د قیامت په ورځ له هغه چا سره وي، له چا سره یې چې محبت وي.**

(په نړۍ کې دې چې له هر چا سره محبت وي او هر څوک دې خوښ وي او مینه ورسره کوې، په اخرت کې به له هغه سره یې. کوښښ وکړه په ژوند کې له داسې کس سره محبت وکړې، چې په اخرت کې یې په ملګري او محبت و نه شرمیږې. د ښو خلکو سره محبت وکړئ، چې له نیکانو سره په هغې دنیا کې را پاڅیږئ.)

**۴- شراب د ګناهونو جمع کوونکی دی.**

(که یو څوک شراب و څکي، ډیر ګناهونه یې وکړل. مطلب شراب داسې څیز دی، چې په څکلو سره یې د انسان څخه عقل ځي او هر کار او هره خبره یې چې زړه غواړي، کوي یې. د ګناهونو جمع دا مانا، چې له شراب څکونکي نه هره ګناه کیږي. یوه ګناه یې دا شوه چې شراب یې وڅکل، تر څو چې د شرابو نشه نه یې ور څخه تللې، شراب څکونکی به په ګناهونو باندې مبتلا وي. یوه شپه مې کتاب مطالعه کاوو، چې ډیرې په زوره چیغې مه تر غوږ شوې. فکر مې وکړ چې د دوو نفرو تر منځ کوم جنجال دی، یو څو ثانیې به نه وې تیرې شوې، چې د شیشې د ماتیدو شرنګ مې تر غوږونو شو. له غږ نه داسې ښکاریده چې ډیر نږدې دی. له اطاق څخه ووتم، ګورم چې یو کس سره یوه ښځه او یو بل نفر دی کش کوي یې؛ خو د هغه کس له خولې څخه لاړې بهیږي او ډېرې بدې بدې خبرې یې له خولې څخه راوځي. ما پوښتنه وکړه چې څه خبر دی؟ یو کس راته وویل: دغه هلک شراب څکلي. هغه کس څو ګناهونه وکړل؛ کنځلې وکړې، لمونځ یې ونکړ؛ ځکه مست وو، شیشه یې ماته کړه، ځان یې و شرماوو....)

**۵- مؤمن ساده او شریف سړی وي او منافق دهوکه باز او رذیل وي.**

(د مؤمن سړي له ښو خویونو نه یو دا دی، چې ډیر ساده او شریف یې. چل او فریب یې نه په زړه کې وي، نه یې زده وي او نه یې له چا سره کوي. په څیره به د چا نه غلطیږئ، یعنې د چا ښه څیره ددې زمه نشې کولی چې یو کس څومره ښه څیره ولري، په همغه اندازه دې ښه انسان هم وي. یا دا چې یو څوک څومره بده څیره ولري، په همغه اندازه دې بد انسان هم وي. دهوکه باز چې کله خبرې کوي، ډیر ژر قسم خوري، یوه جمله یې خلاصه کړې نه وي، د بل جملې په پیل کې بیا قسم خوري. تل به د خپل ځان صفت او د بل کس غیبت کوي.)

**۶- لومړی سلام اچونکی له کبر څخه پاک وي.**

(کبر کول یوه لویه ګناه ده او الله تعالی د کبر له وجې څخه شیطان له جنت نه وویسته. د خوږ نبی علیه سلام وینا دی، چې هر څوک لومړی سلام بل مسلمان ته وکړي؛ نو هغه له کبر څخه پاک دی. ځینې خلک داسې دي، چې کله سلام ورته واچوې؛ نو پر ځای د **علیکم سلام** باندې هغه هم ستا په څیر **سلام** وایي. غوره خبره دا ده چې ځواب ورکونکی **وعلیکم سلام** ووایي. ځینې بیا داسې خلک دي، چې کله **سلام** ورته واچوې، د سلام ځواب نه درکوي. که چیرته هغوی د کبر له وجې ستا سلام ته ځواب نه در کاوو بیا یې مه ورته اچوه؛ ځکه نبی علیه سلام فرمایي، کبر کول د کبرجنو بنده ګانو سره عبادت دی. که بلې خوا ته ځیر شو نو داسې معلومیږي چې باید موږ د خپل نبی علیه سلام سنت پری نږدو. یو څوک که ځواب راکوي او که یې نه راکوي؛ خو باید چې له سلام اچولو څخه منع ونکړو، ځکه موږ به سنت ادا کړو او که هغه مقابل کس ځواب در نکړي، د هغه ګناه دی؛ ځکه د سلام اچول سنت دی او ځواب یې واجب دی)

**۶- دنیا د مؤمن لپاره بندي خانه او د کافر لپاره جنت دی.**

(په دنیا کې دوه ځیزونه غم او ښادي شته. مؤمن زیاتره وخت په غمونو او تکلیفونو کې وي؛ خو کافر ښه خوشحال وي. ځینې ته به دا پوښتنه پیدا شي، چې ځینې کافران دي په دې نړۍ کې له مؤمنانو څخه هم زیات خپه دي. ددې پوښتنې لپاره ځواب دا دی، چې که چیرته د کافر دا دنیا چې یو څه پکې په تکلیف وي، د هغې دنیا سره چې الله پاک به دوی دوزخ ته اچوي او ډول ډول عذابونه به ورکوي، سره پرتله کړو، د دې دنیا عذاب او سختیو ته داسې دی لکه جنت. کله چې د مؤمن ددې دنیا سختی د هغې دنیا له نعمتونه سره مقایسه کړو؛ نو دا دنیا به داسې ورته ښکاره شي، لکه بندي خانه. بله دا چې لکه څنګه په بندي خانه کې یو کس هر څه نشي کولی، په همدې ډول یو مؤمن په دې نړۍ کې هم نشي کولی. په هغې دنیا کې به یو کس

شراب څکلی شي؛ خو په دې دنیا کې یې نشي څکلی. دا داسې شو لکه چې یو څوک په قید کې واچول شي.)

### ۷- پورتنی لاس له ښکتني لاس څخه غوره دی.

(په دې حدیث کې اشاره خیرات خورو ته دی. هغه څوک چې خیرات ورکوي، هغه ته په حدیث شریف کې د پورتني لاس خطاب شوی او هغه کس چې خیرات اخلي، هغه ته د ښکتني لاس خطاب شوی. اوس داسې وخت دی چې د فقیر او مالداره تر منځ توپیر په اساني نشي کیدای. ځینې داسې خلک دي، چې خیرات ټولول یې عادت کرځیدلی وي. او ځینې بیا د بدې ورځې نه خیرات ټولوي. یو څه داسې خلک خیرات ټولوي، چې ښه د کار کولو توان هم لري او حلاله نفقه ځان ته پیدا کولی شي؛ خو بیا هم خیرات ټولوي. یو ځل مې یو کس ولید، چې د کابل په ښار کې یې میده پیسې (یو ګوني او دوه ګوني) په لاس کې ګرځول او د هر چا به چې پکار وو، غټې پیسې به یې ورکړې او میده به یې ورنه واخیستې. یو څه وخت وروسته مې ولید، چې هغه کس خیرات ټولاوو. په هر صورت، زیار وباسه او خولې تویې کړه! ددې پر ځای چې له بل چا نه خیرات واخلې، کار وکړه او بل چا ته خیرات ورکړه.)

### ۸- غیبت له زنا څخه سخت دی.

(غیبت هغه څه ته وایي، چې یو کار یا یو عمل په یو چا کې موجود وي؛ بلکې هغه نه خوښوي چې خلک دې د هغه په اړه وغږیږي. د بیلګې په توګه: د یو کس ونه (قد) یې ټیټه دی او یا یې پوزه غټه دی، نو خلک د هغه په اړه وایي، د هغه کس داسې پوزه دی، لکه.... په حدیث شریف کې یې غیبت له زنا څخه سخت کړی. دا خبر داسې نه دی چې زنا ګناه نه لري، زنا هم حرامه ده که څوک یې وکړي ګنهګاریږي؛ خو غیبت ته ځکه داسې سخته اشاره شوې، چې په زنا کې د الله پاک خوښه دی، که یې خوښه شي عفوه به درته وکړي او که یې خوښه شي عذاب به کس ته ورکول کیږي؛ خو غیبت بیا د انسان حق دی، تر څو یې چې انسان ښنه درته ونکړي، هیڅوک به

يې درته و نه ښيي. په دې هم بايد پوه شو، چې ځينې انسانان په اسانه چاته ښښنه نکوي. په قرانکريم کې غيبت داسې ګڼل شوی، لکه يو انسان چې د بل انسان غوښې خوري. خلاصه د غيبت او بې ځايه غږيدا څخه هر انسان بايد ځان و ساتي.)

**۹- ښځې د شيطان جالونه دي.**

(ښځې د شيطان جالونه دی، دوی سړيو ته مخونه ښايسته کوي. زياتره ښځې هغه کارونه کوي، چې نارينه ځان ته جلب کړي. بله خبر دا چې په ښځو کې شيطان پټ وي. له يو لوري د نارينه په زړه کې شيطان داسې وسوسه ور اچوي چې هغه ښځې ته وګوره څومره ښايسته دی. که هغې ته و نه ګورې بيا به داسې ښځه و نه وينې، يو ځل خو ورته وګوره. کله چې انسان هغې ته وګوري؛ نو شيطان هغه ښځه ده ته دومره ښايسته ښکاروي، دی فکر کوي، چې داسې ښايست مه هيڅکله هم نه دی ليدلی. بيا شيطان کوښښ کوي، چې د نارينه توجو د ښځې لوري ته واړوي. دا ځل داسې ورته وايي، که چيرته په لومړي ځل کتلو ګنهګار شوی يې، په دويم ځل دې هم شي، څه پروا لري ديدن خو به وکړې، الله پاک خو مهربانه دی.)

**۱۰- توبه کوونکی له ګناهونه څخه داسې دی، لکه چې هيڅ ګناه يې نه يي کړې.**

(د توبې معنا دا دی چې له مخکې ګناهونه نه پرهيز وکړې، مطلب کړي ګناهونه دې بيا ونکړې. که چيرته يو کس له ګناه څخه په صدق سره توبه وباسي او بيا هغه کار ونکړي، داسې دی لکه هيڅ ګناه يې چې نه يي کړي؛ ځکه توبه يې مخکينی ګناهونه ټول ختموي. زياتره کسان له مه نه پوښتنه کوي، چې دا کار مې وکړ، نه پوهيږم الله پاک به مې وبښي او که نه. زه تل ورته وايم، توبه ويستل او په تيره ګناه باندې پيښمانه کيدل هغه څه دي، چې تاته به الله پاک ښښنه کوي. ځينې خلک بيا دا فکر کوي، چې ګناهونه کوه؛ خو کله چې سپين ګيری شوې، بيا به توبه وباسې. دا يو ډيره غلط خبر دی، ځکه په داسې خبرو باندې شيطان د خپل ځان ملګري زياتوي. هيچا ته نه دی

معلومه چې څه وخت به مړ کیږي. بهتر دی چې همدا اوس په صدق سره توبه وباسي او نور هغه کارونه وکړي، په کومو باندې چې الله پاک خوشحالیږي.)

**۱۱- د منافق درې علامې دي؛ کله چې خبرې کوي دروغ وايي، کله چې وعده کیږدي، ماتوي او کله چې امانت ورسره کیښودل شي، خیانتوي.**

(دا درې هغه څیزونه دي، چې موږ کولی شو منافق انسان ورباندې وپیژونو. تاسې به ځینې کسان لیدلي وي، چې کله ورسره غږیږې، هر خبره یې دروغ وي. په دې نه پوهیږي چې دروغ څومره لویه ګناه دی. ما په یو کتاب کې لیدلي وو، چې کله د دروغجن کس وخت د مرګ راشي، په ډیر سختی سره به روح ورڅخه اخیستل کیږي. کله چې له منافق سره وعده کیږدې، په خپله وعده وفا نه کوي. له سلو نفرو سره یې وعدې کړې وي؛ خو یوه هم نشي ترسره کولی. کله چې امانت ورسره کیږدې، خیانتوي یې. ته به یو څه د امانت لپاره ورکړې، خو هغه به یې خیانت کوي او هیڅ ساتنه به یې نه کوي. هر کس باید کوښښ وکړي چې له دغو کارونه څخه ځان وساتي. کله چې غږیږې ریښتیا ریښتیا وایه، لږ وغږیږه؛ خو ریښتیا ووایه. له هر چا سره وعده مکوه. کومه وعده چې نشې پوره کولی، له هغه کس څخه ښښنه وغواړه او ورته ووایه چې نشم کولی. که چیرته یو چا څه شی درته د امانت په توګه کیښوده، که تا یې ساتنه نشو کولی، له هغه کس نه یې مه اخله.)

**۱۲- مسلمان هغه دی، چې د هغه د ژبې او لاس له ضرر نه مسلمانان په امان وي.**

(مسلمان باید په یو اندام هم بل مسلمان ته ضرر و نه رسوي. په حدیث شریف کې یواځې لاس او ژبه یاد شوي، دا ځکه چې په دغه دواړو اندامونو ډیر زیات ضرر بل مسلمان ته رسیږي. بله خبر دا چې، د نور اندامونو له ضرر څخه هم باید نور مسلمانان په امان وي.)

**۱۳- مجاهد هغه دی، څوک چې د الله تعالی په اطاعت کې له خپل نفس سره جهاد وکړي.**

(مطلب د خپل نفس خبره نه مني. هغه څه چې شیطان ورته وایي، دی یې و نه مني. خپل نفس نه پریږدي چې ګناه وکړي. بې ځایه چورتونه او خیالونه په ذهن کې نه پریږدي.)

**۱۴- یو مؤمن د بل مؤمن لپاره ائینه ده.**

(لکه څنګه چې ائینه هر چا ته خپل ظاهر ښيي، همدارنګه یو مؤمن د بل مؤمن لپاره هم. زیاتره وخت یو کس نشي کولی، خپله نیمګړتیا ووینې؛ نو بل مؤمن یې باید د هغه کس نیمګړتیا په ښه شان سره ور په ګوته کړي.)

**۱۵- د قوم سردار په سفر کې خادم د قوم وي.**

(خادم یعنې خدمت کوونکی. مشر د قوم باید داسې ووسیږي لکه خادم د خپل قوم. تر خپله وسه خپل قوم ته خدمت وکړي. داسې خدمت نه، چې که حلال دي او که حرام دی یې خپل قوم ته کش کوي. د قوم خدمت داسې، چې د هر کس له حال نه به ځان خبروي، څوک که څه نه لري او یا محتاج یې، تر خپله وسه باید کومک ورسره وکړي.)

۱۶- د ټولو نه زیات ریښتوني خوبونه د سهار په وخت کې وي.

۱۷- په تاسو کې تر ټولو غوره هغه کس دی چې قران زده کړي او نور ته یې هم ور زده کړي.

(خپله هم قرانکریم زده کړي او نور ته یې هم ور زده کړي. دا صدقه جارې هم دی. هر وخت یې چې یو څوک لولي؛ نو ښوونکي ته به یې ثواب ورسول کیږي.)

۱۸- محبت د دنیا سر د هرې خطا دی.

۱۹- تر ټولو غوره اعمال الله تعالی ته هغه دي، چې تل وي، که څه هم کم وي.

۲۰- غوره جهاد هغه دی، څوک چې حق خبره د ظلم پاچا تر مخ وکړي.

۲۱- رضامندي د الله پاک په رضامندي د مور او پلار کې دی، ناراضګي د الله پاک په نارضي د مور او پلار کې دی.

۲۲- مشر ورور په کشرانو ورونو باندې داسې حق لري، لکه پلار په خپلو زمنو.

۲۳- هر سړی غلطي کوي؛ خو تر ټولو غوره په غلطي کوونکو کې هغه کسان دي، چې توبه کوونکي وي.

۲۴- د مسلمان تحفه مرګ دی.

۲۵- مثال د هغه کس چې خپل رب يادوي او مثال د هغه کس چې خپل رب نه يادوي، داسې دی لکه مړی او ژوندی.

۲۶- مثال د هغه عالم چې له هغه نه فايده نشي اخيستل کيدای، داسې دی لکه خزانه کومه چې د الله تعالی په لار کې خرچ کولی نشي.

۲۷- تر ټولو غوره ذکر لااله الا الله دی او تر ټولو غوره دعا الحمدالله دی.

۲۸- اول کسان چې جنت ته به ور و بلل شي، هغه دي چا چې په وخت د غم او ښادي کې د الله تعالی ثنا او صفت يې ويلی وي.

۲۹- د مخلوق هيڅ طاعت لازمي نه دی، د خالق په نافرماني کې.

۳۰- په اسلام کې تعلق پريښودل نشته.

۳۱- بيشکه ځينې بيان خامخا جادو وي.

۳۲- بيشکه ځينې له علم نه هغه جهالت دی.

( هغه څوک چې په خپل علم باندې عمل نه کوي، د هغه کس علم داسې دی لکه جهالت. د بيلګې په توګه، که يو کس سره په توره شپه کې چراغ وي؛ خو استفاده ورنه و نکړي. ويې نه لري. د هغه څراغ

ګټه څه شوه؟ دده کس چې چراغ لري او د هغه کس چې چراغ نه لري څه فرق شو. هیڅ؛ نو معلومه شوه، چې له علم سره عمل ډیر اړین دی. که عمل نه وي، علم جهالت دی.

۳۳- بیشکه له چا نه چې مشوره اخیستل کیږي هغه امانت دار وي.

۳۴- بیشکه د هر څیز لپاره تیزي وي او د هرې تیزي پسې سستي وي.

۳۵- بیشکه رزق په بنده پسې داسې ګرځي لکه مرګ.

۳۶- بیشکه د هر امت لپاره ازمایښت وي، زما د امت لپاره ازمایښت مال دی.

۳۷- بیشکه دعا د زر قبلیدو په لحاظ سره د غایُب د غایُب لپاره ده.

(هغه دعا چې یو کس یې بل کس ته په داسې حال کې وکړي، چې هغه ورسره نه وي او دعا کوونکی د هغه په نیستي کې هغه ته دعا کوي، ډیر ژر قبلیږي.)

۳۸- بیشکه هیڅ ساه لرونکی نه مړ کیږي تر څو یې چې رزق مکمل نکړي.

۳۹- بیشکه د نیکي نه داده چې ته مخامخ شې له خپل ورور سره په رونړ تندي.

۴۰ نږدې ده غریبي چې کفر شي.

(کله چې یو څوک ډیر غریب شي، هیڅ طاقت د غریبي نه لري؛ نو د صبر کاسه یې ډکه شي، هر څه چې په خوله ورځي وایي.)

## د هوراس غوره خبرې:

۱- سړی کولی شي له پراخو سمندرونو څخه تیر شي، خو له خپله ځانه نه شي خلاصېدای.

۲- یوازې نوم ته تغیر ورکړه نور نو ټول دستان ستا په باره کې دی.

۳- قهر نیم لیونتوب دی.

۴- پر کوم سر باندې چې تاج ایښودل شوی وي، پر بالښت باندې ارام نشي ایښودل کیدای.

۵- ایا ته خوار یې؟ سره له دې ته کولی شې طلاې خوبونه ووینې.

۶- څوک چې په کار پیل وکړي نیم کار یې پای ته رسولی.

۷- د مرګ ساړه لاسونه د شاه او ګدا بدن لمس کوي.

۸- د امپراتوری له اداره کولو څخه د خپل ځان اداره کول مشکله دی.

۹- له سبا ورځې څوک څه خبر دي، همدا نن ورځ په خوشحالي تیره کړه.

۱۰- موسمونه تیریږي او خپله وخت بیرته راګرځي، خو د انسان په ژوند کې پسرلی بیا نه راځي. (ځواني فقط یو ځل راځي)

## د دانتي غوره ویناوې:

۱- ادبیات یوه دروازه دی چې انسان یې د خپلو احساساتو پر مخ پرانیزي.

۲- تر حقیقت خوږ شی په حقیقت بارو درلودل دي.

۳- کله مثبت او کله منفي اوسیدل، کله زور او کله زاری، سیاست دی.

۴- هیڅ عبرت د قیمت ورکولو څخه پرته د سړي نه په نصیب کیږي.

۵- طبیعت د خدای پاک هنر دی.

۶- که چیرې خپلې خوښی له نورو سره شریکوې، هغوی هم ستا په غم در شریکیږي.

۷- صبر او زغم باید له ونو زده کړو، چې د مني او ژمي ټول بادونه د پسرلي په هیله زغمي.

۸- تر دې لویه بدمرغی نشته چې په ناخوالو کې د خوښیو شیبې را یادوو.

۹- شتمنی یوه کیله دی چې سړي ته ډیرې دروازې پرانیزي.

۱۰- ښوک چې عقل لري عاقل ښوک چې علم لري عالم؛ خو نابغه هم عاقل او هم عالم وي.

## د ولټیر غوره ویناوې:

۱- د هغو ناپوهانو ازادول سخت دي، چې د خپلو ځنځیرونه عبادت کوي.

۲- تاریخ د جنایتونو او ناکامیو کیسه دی.

۳- ټول خلک له ازادي سره مینه لري، مګر د هغې په ورک کولو کې عجیبه مهارت لري.

۴- یو انسان له خپلو پوښتنو څخه پیژندل کیږي نه له خپلو ځوابونو څخه.

۵- نیکمرغي هغه شی دی چې طبیعت یې په ډیره ګرانه بیه پر موږ پلوري.

۶- د کتاب پاڼې داسې وزرونه دي، چې زمونږ ارواوې د رڼا پر لوري الوزوي.

۷- کار انسان له دریو سترو بلاګانو څخه ژغوري؛ غم، غریبي او احتیاج.

۸- زمونږ کشیشان او زاهدان هغسې نه دي لکه خلک یې چې ګڼي، بلکې دا زمونږ جهل دی، چې د هغوی پر درغجنو او ککړو چپنو یې د علم د جامو نوم ایښی دی.

۹- د نوابغو تر ټولو ستر عیب دادی، چې نړۍ او د نړۍ خلکو ته تر خپل ځان هم زیات فکر کوي.

۱۰- ثروت یواځنی مذهب دی چې ټول د هغه پیروان دي.

## د بالزاک غوره ویناوې:

۱-انسان له ناهیلی مري او ارواوې له خوشحالی.

۲- مینه د احساساتو شاعري ده.

۳- انسان د خپلې ټولنې او طبعي چاپیریال محصول دی.

۴- د هرې شتمنی تر شا یو جرم پټ دی.

۵- هیڅ وخت نشې کولی چې د مور تر مینې ریښتنې او ښه مینه پیدا کړې.

۶- لوی استعداد له لویې ارادې پرته ناشونی دی.

۷- له ښځې پرته کور د هدیرې په څیر دی.

۸- زیاتې خبرې د منافقت نښې دي.

۹- دا لوړه ده، چې لیوان له ځنګله راوباسي.

۱۰- نابغه هغه څوک دی، چې خپل فکرونه په عمل کې وکاروي.

## د ویکټور هوګو غوره ویناوې:

۱- له هغه چا سره مینه وکړه، چې ستا د مینې وړ وي، نه د مینې وړ ی. د مینې وړ ی یوه ورځ مړیږي

۲- فقر او بیوزلي، نر جنایت ته او ښځه فحشا ته هڅوي.

۳- حیونات له دې امله چې دوزخ ته نه ځي نیکمرغه دي.

۴- ژوند ریاضي ده، ښیګڼې جمع کړئ، شخړې منفي کړئ، خوشحالئ ضرب کړئ، دردونه تقسیم کړئ، د نفرت جذر ونیسئ او عشق پر توان لوړ کړئ.

۵- احتیاط د پوهانو لومړی شرط دی.

۶- هر ښوونځي مو چې پرانیست د زندان یو ور مو وتاړه.

۷- واده عجیبه وي، کله له ګیدړانو زمریان جوړې او کله له زمریانو ګیدړان.

۸- بد چانسه هغه سړی دی، چې پر خپلو استعدادنو باور نه لري.

۹- تمبلي دوه اولادونه لري، زوی یې غل او لور یې لوږه نومیږي.

۱۰- هغه خلک چې ځان نشي اداره کولی نورو ته لاس په نامه ولاړ وي.

## د لامارتین غوره خبرې:

۱-احتیاط حتی په احتیاط کولو کې هم لازم دی.

۲- تر ټولو نږدې شی مرګ دی او تر ټولو لرې شی هیله او امیدونه دي.

۳- وايي وخت طلا دی، بلکې له بده مرغه ټول له دغه طلا ښځه د سربو پر ځای استفاده کوي.

۴- غرور او تکبر هغه آس دی، چې پر هغه سپور کس د تباهې خوا ته وړي.

۵- په نړۍ کې تر ټولو ښکلي شعرونه د میندو (للو للو) دي.

## د میلټن لنډې ویناوې:

۱- ویښ شه پاڅیږه، که داسې ونکړې، ښایي تر ابده ولویږې.

۲- پر تا دې درود او سلام وي ای اسماني غمه.

۳- ذهن پر خپل تخت ناست دی او کولی شي، د خپل ځان دننه له جنت نه دوزخ او له دوزخ نه جنت جوړ کړي.

۴- دا بدمرغي نه دی چې انسان ړندوي، بدمرغي دادی چې هغه ړوندوالی و نشي زغملی.

۵- فضیلت له یرغل سره مخ کیدی شي خو هیڅکله ماتې نه شي خوړلی.

## د ویلیام بلیک څو لنډ ویناوې:

۱- د یو دوښمن ښنل د یو دوست تر ښنلو ډیر اسانه کار دی.

۲- هڅه وکړه چې د نیکمرغۍ او خوشحالۍ خبرې زیاتې په ژبه راوړې، نه د غم او بدمرغۍ.

۳- جاهل او ناپوه که چیرې په خپل جهل او ناپوهۍ کې هڅه او استقامت ولري، عاقل او هوښیا ورنه جوړیږي.

۴- په خپل دوست په قهر وم، کله مې چې هغه ته د خپل قهر ورته وویل قهر مې له منځه لاړ.

۵- که چیرې غواړې د ګل له بوی او ښکلا څخه خوند واخلې، باید د هغو د اغزیو نیش هم وزغمې.

## د بایرون یو څو غوره ویناوې:

۱-افتخار د وینو په تویولو کې نه دی، د اوښکو په وچولو کې دی.

۲- خومره چې ممکنه وي خوشحالي کوه؛ ځکه دا ارزانه دوا دی.

۳- په زور او جبر سره احترام غوښتل، د کینې او ملنډو لامل کیږي.

۴- ژوند یوه لوبه؛ خو د انسان د ټول عمر په اندازه.

۵- تر اوسه نه یم پوهیدلی چې ولې، یو څوک چې څومره ښکلی، شتمن او ځواکمن وي، هغومره بې وفا هم وي.

۶- ستا ټول وخت خپل نه دی، نور هم پکې برخه لري، هماغه ډول لکه ته چې د نورو په وخت کې برخه لرې.

## د ډيکنز څو غوره وينا وې:

۱- که چيرې ظالم ته مخه ورکړې، چې د يوې ګوتې په اندازه ستا په حق تجاوز وکړي، د زرو ګوتو په اندازه به هم اکتفا و نه کړي.

۲- هر څوک چې په ځوانۍ کې احترام وکړي په زړبوډۍ کې احترام کيږي.

۳- کله چې کرغيړنه نقشه په خپل ذهن کې ترح کړو؛ د نيکمرغى وسيلې له ځانه لرې کوو.

۴- ميړانه د بشر تر ټولو اوچت صفت دى.

۵- وخت خپله دنده شرافتمندانه تر سره کوي، خو دا مونږ يو چې د وخت له بدليدو سره بدليږو.

## د موام لنډې جملې:

۱- که يوه ملت تر خپلې ازادى بل څه ښه او مهم وګڼل، نو هر څه به له لاسه ورکړي.

۲- انسان هغه څه نه دى چې دى غواړي، بلکې هغه څه دى، چې دى بايد محبوراً وي.

۳- پيسې د شپږم حس په څير دي، له هغو پرته نور پينځه حواس چندان ښه کار نه کوي.

۴- زړښت ډير مصيبتونه لري، مګر دا ګټه هم لري چې انسان د هغو کړونو چې پخوا يې کړي، پايله ووينې.

## د اناتول فرانس غوره ویناوې:

۱-علم له خطا څخه خلاص دی، بلکې عالمان تل په خطا کې وي.

۲- د یوې ښځې لپاره تر ګاڼو او جوهراتو تقوا ډېره ضروري او ارزښتناکه دی.

۳- خطا او اشتباه یو انساني کار دی، مګر د هغو تکرارول حیواني کار دی.

۴- که موږ په هر څه پوه شو، یو ساعت هم د ژوند تحمل نشو کولی.

۵- خوښي، له ژوند سره د جګړې تر ټولو ښه وسله ده.

۶- که چیرې د انسان زړه ځوان وي، ټول موسمونه ورته پسرلی دي.

۷- ژوند یو امانت دی چې خدای تعالی بشر ته ورکړی دی، دغه امانت په ښه ډول وساتئ.

۸- اخلاق طبیعاُ په احساساتو باندې تکیه لري او بس.

۹- رواجونو عشق او محبت ته هغه وخت لوی خدمت وکړ، چې د ګناه نوم یې ورکړ.

۱۰- د نړۍ د لویو امپراتورانو تر ټولو لویه نیمګړتیا دا دی، چې د قوي او غښتلیو مغزونو قوانین یې د قوي او غښتلیو خلکو لپاره لیکلي دي او د بشر ضعیفي او کمزوري یې پکې په نظر کې نه دی نیولې.

## د سارتر لنډې جملې:

۱-یو انسان د نورو انسانانو ثمره دی او په همغه اندازه ارزښت لري، لکه نور انسانان یې چې لري.

۲- هغه ایمان چې یوازې په یوه وسوسه او یوه زمزمه ضعیف شي، ایمان نه، بلکې یو خوب او خیال دی.

۳- سیاست یعنې خپل ځان لوړ انګیرل او خپل دغه باور ته د نورو مجبورول.

۴- انسان هغه څه دی، چې دی له خپل ځان جوړوي.

۵- مړینه کافي نه دی، باید پر ځای ومرو.

۶- ډاکتران، چارواکي، قاضیان او مذهبي مشران، نورو انسانانو ته په داسې نظر ګوي، لکه دوی چې پیدا کړي وي.

۷- له ټولو سره مې وفا وکړه؛ خو له هیچا ښځه مې د وفا تمه و نه کړه، په دې ډول ارام وم.

۸- مونږ ازاد یو، خو په عین حال کې له خپلې ازادی ښځه ویره هم لرو.

۹- شله ګي چې تر آزاره و نه رسیږي (پارونه او پوهونه) ده، خو که چیرته د آزار تر بریده ورسیده، «شکنجه» ده.

۱۰- نړۍ د بې عدالتۍ سیمه ده، که چیرې یې منې، په جرم کې ورسره شریکیږې او که چیرې غواړې بدله یې کړې، په جلاد باندې بدلیږې.

## د البرټ کامو لنډې ویناوې:

۱- انسان ددې لپاره چې قضاوت پرې ونه شي، د نورو په اړه په قضاوت کولو کې بیړه کوي.

۲- د پاچاهانو سره د برابرۍ یوه لاره شته، هغه دا چې سړی د هغو په اندازه ظالم شي.

۳- ضرور نه دی چې هر سړی دې ستر سړی وي، د انسان لپاره یوازې انسانیت بس دی.

۴- د انسان عظمت په دې کې دی چې پوهیږي مړ به شي.

۵- یوه دوست ته ماتې ورکول، له هغه څخه تر ماتې خوړلو ډېره سخته ده.

۶- که چیرې و پوهیږو، چې خلک په ریښتیا څه فکر کوي، نور نه شو کولی له هغو سره ژوند وکړو.

۷- غمیزه دا نه دی چې یوازې واوسې، بلکې داده چې د یوازیتوب تاوان و نه لرې.

۸- خزان څه شی دی؟ دویم پسرلی، چې په هغو کې ټولې پاڼې د ګلونو په رنګ وي.

۹- موږ مخکې له دې چې په فکر کولو عادت وکړو، په ژوند کولو عادت کو.

۱۰- بشر یواځنی مخلوق دی چې نه غواړي داسې شي لکه څنګه چې دی.

## د شکسپیر یو څو غوره جملې:

۱- نړۍ د یوې صحنې په شان ده، چې هر څوک د خپل رول د لوبولو وروسته باید صحنه ترک کړي او هغه بل چا ته پرېږدي چې راشي او خپل رول ادا کړي. په یاد ولرئ یواځې هغه کسان د نورو په یاد پاتې کیږي چې خپل رول تر نورو ښه ادا کوي.

۲- څومره چې ستا کارونه مهم وي، هغومره به دې دوښمنان ډېر وي.

۳- خدای تاته یو مخ درکړی، خو ته بل مخ غوره کوې.

۴- یوه بې معنا او ناممکنه هیله له لاسه ورکول، په خپله یو ستر موفقیت او پرمختګ دی.

۵- ای انسانه! ای مغروره انسانه! ته تر اسمان لاندې د لږ قدرت د پیدا کولو په خاطر داسې څه کوې، چې پرښتې ژړوې.

۶- که یو څوک زما مال پټ کړي، د یو کم ارزښته شي غلا یې وکړه، بلکې که یو څوک زما ښه نوم له منځه یوسي، زما د ځان یوه برخه یې وړې، په دې کار به دا غل ځان مالداره نه کړي، بلکې ما به غریب کړي.

۷- آه! چې دروغ څومره ښایسته او ښکلې څیره لري.

۸- کاشکې توري او کلمات کم پیدا شوي وای، تر څو ترې بې ځایه استفاده نه کیدای.

۹- هر څوک چې قناعت نه لري تر ټولو غریب دی.

۱۰- موږ په خپلو سینو کې یو اسماني وړانګه لرو، چې نوم یې وجدان دی.

۱۱- یوه ښځه له میړه پرته بل څه نه غواړي؛ خو کله چې هغه ته ورسیږي بیا هر څه غواړي.

۱۲- که چیرې د نورو له شرافت او انسانیت سره سیالي ګناه وګڼو، د نړۍ تر ټولو لوی مجرم انسان زه یم.

۱۳- هر څوک خپل عمر تر هغه ځایه پورې ضایع کوي، تر څو عمر دی ضایع کړي.

۱۴- ژوند د هغو کسانو لپاره چې احساس کوي غمیزه دی او د هغو کسانو لپاره چې فکر کوي مسخره دی.

۱۵- له ژوند څخه د خوند اخیستلو لپاره پکار ده، چې لږ ناپوه واوسې.

۱۶- پوچ او بې کماله سړی، لکه تش لوښی ډیر شوماشور کوي.

۱۷- څوک چې یو ځل باور ته زیان ورسوي بیا پرې باور ونکړئ.

۱۸- تل د انسان دا کار دی چې سبا په نن او نن په پرون بدل کړي.

۱۹- که چیرې ټوله نړۍ له ترخو ډکه شي، زه به یې د خوږو په هیله وزغمم.

۲۰- ناوړه انسان ځي، خو د هغه شر پاتې کیږي.

## د توماس اليوت غوره جملې:

۱- هر څوک استعداد لري؛ خو په ځينو مواردو کې يواځې د څو دقيقو لپاره.

۲- ټول دنيا ته ريښتنې راځي، بلکې ټول له دنيا څخه ريښتني نه ځي.

۳- د ژوند تيريدولو ماته دا را زده کړل؛ انسانان معمولاً هغه شيان له لاسه ورکوي، چې د هغو له درلودلو څخه ډاډمن وي.

۴- انسان ډير ريښتيا نه شي زغملی.

۶- تشويش او پريشاني د نوښت محصول دی.

## د ويرجينيا وولف غوره ويناوې:

۱-هيڅ يو نوښتګر ليکوال نشي کولی، خپل بل هممهاله ليکوال وزغمي.

۲- کله چې انسان يوازې وي، بې روحه شيانو ته پناه وړي، ونو، بوټو، ويالو، او...

۳- ليکل يعنې مطلقه ناهيلي.

۴- له ځان سره احساس کوم، چې بايد په ميلونونه خلک د ادبياتو مينوال کړم نه په زرګونو.

۵- له څه شي چې زياته ويريږم، هغه دا چې هسې نه چې د يو ناڅيزه او بې ارزښته انسان په خير هيره شم.

## د جورج اورویل یو څو خبرې:

۱- هغه خلک چې فاسد سیاستوال ټاکي، قربانیا نه دي، د جرم شریکان دي.

۲- انسان یوازې هغه مهال خوشحاله اوسیدلی شي، چې تصور وکړي، د ژوند هدف خوښ اوسیدل دي.

۳- که چیرې غواړې یو راز وساتې هغه باید له خپله ځانه هم پټ کړې.

۴- تعصب او جهالت دومره ځواکمن دي، چې کولی شي جنګ، سوله او غلامي، آزادي وښیي.

۵- آزادي داده چې حق ولرو، خلکو ته هغه څه ووایو چې اوریدل یې نه غواړي.

## د کافکا ښنلې ویناوې:

۱- چیرته چې اعتماد نه وي، هلته فضولې خبرې وي.

۲- خلک تل تیار دي، چې د دویم ځل لپاره هم وغولیږي.

۳- ذهن د پراشوټ په شان دی، تر څو چې پرانستل نه شي، کار نه کوي.

۴- یو احمق، یو احمق وي. دوه هم دوه، خو له لس زرو احمقانو څخه یوه سیاسي ډله جوړیږي.

۵- د ځان او نړۍ په جګړه کې د نړۍ پلوي وکړه.

## د ګویته غوره ویناوې.

۱- لومړی قانون خدای پېژندنه ده. لومړی قانون دې چې پلې کړ، بل قانون ته به اړتیا و نه لري.

۲- هیڅ کار مه پیلوه او که پیلوې یې، بیا خپل ټول تاوان پکې وازمویه.

۳- په ځوانۍ کې موږ په مشکلاتو پسې ګرځو په زړبوډۍ کې مشکلات په مونږ پسې ګرځي.

۴- خبرې کول اړتیا دی، غوږ نیول هنر.

۵- خپل راتلونکي ته تصمیم ونیسه، تلاش ورته وکړه او امید ورته ولره، مګر د راتلونکي لپاره ژوند مه کوه.

۶- څومره چې انسان خپل ځان ښه تیر ایستلای شي، بل هیڅوک یې په هغومره مهارت نه شي تیر ایستلای.

۷- طبیعت هغه کتاب دی، چې ټولې پاڼې یې له معنا ډکې دي.

۸- د انسان لومړۍ دنده کوښښ دی.

۹- هوډ یې چې غښتلی وي، نور نو شرایط دومره ارزښت نه لري.

۱۰- خدایه! هنر څومره اوچت او ژوند څومره لنډ دی.

## د شیلر غوره جملې:

۱- هر تعصب او شله ګي په هر ځای کې غیرت نه دی.

۲- د بشر تر ټولو ستره بدبختي داده، چې نیکمرغي په ډیر ځنډ سره لاس ته راوړي او ډیر ژر یې له لاسه ورکوي.

۳- انسان تر هر څه مخکې یو احساساتي موجود دی.

۴- موږ له یو بل سره د نفرت لاره نیسو، جنګ او جګړه پیلوو، خپلې هیلې او باورونه یو له بله بیلوو، خو په دې منځ کې ستا او زما ویښتان یو ځای سپینیږي.

۵- زما ظاهري خیره په ما پورې اړه لري، مګر هیله لرم، چې د ظاهري خیرې په اساس څوک زما په اړه قضاوت ونکړي.

۶- د هر څه د ژغورلو لپاره باید هر څه په خطر کې واچوو.

۷- له پاچا څخه د حق او عدالت هیله مه لرئ، په خپله له خپل ځان سره مرسته وکړئ.

۸- که چیرې کمزوري او کم واکه خلک یو بل ته لاسونه ورکړي، زورو او ځواکمن خلک ترې جوړیږي.

۹- یو انسان بل ته اړ دی، لوی کارونه د یو بل په مرسته کیږي، زیات څاڅکي یو ځای کیږي، سمندر جوړوي، زیاتې اوبه ژرندې څرخوي.

۱۰- په دنیا کې یواځې هغه کس کامیابیږي، چې د نورو په تمه نه کیني او هر څه له خپل ځانه غواړي.

## د توماس مانويناوې:

۱- نالوستی انسان د صورت سترګې لري، بلکې د بصيرت سترګې نه لري.

۲- سمې ليکنې، د ناسم ژوند پايلې دي او هر وګړی ددې لپاره چې ريښتنی انسان ورنه جوړ شي، بايد د ژوند نادودي ووينې.

۳- هنر قدرت او توانايي نه ده، د خاطر آرام او تسلي ده.

۴- ښايي کله نا کله يو غفلت د يوه سړي يا يوې ټولنې او مملکت برخليک په بله واړوي.

## د اوسکار وايلډ لنډې ويناوې:

۱- ليکوالي معلوماتو او استعداد ته اړتيا لري، خو سياست نه پوه غواړي او نه استعداد. يوازې هغه سړی سياستوال کيدای شي، چې بې شرم وي.

۲- دوست ته په يوازيتوب کې نصيحت کوه او د خلکو په منځ کې يې ستايه.

۳- کار هغه شی دی چې موږ توقع لرو، چې نور خلک يې وکړي.

۴- تجروبه هغه سرليک دی، چې هر څوک يې خپلو غلطيو ته عنوانوي.

۵- نن سبا خلک د هر څه په قيمت ښه پوهيږي؛ خو د هيڅ شي په ارزښت نه پوهيږي.

۶- کله چې خدای تعالی وغواړي يو څوک فاسد کړي، هغه خپلو ټولو هيلو ته رسوي.

## د هاينريش بول غوره خبرې:

۱- هيڅکله په څه ملنډې نه وهم؛ ځکه دا ځواک لرم، چې په کوم څه نه پوهيږم، هغو ته درناوی کوم.

۲- يو سړی ددې لپاره چې پوه شي چيرته ځي، بايد ډيره لاره ووهي.

۳- اوس چې لا اوس دی، د يوه بې ادبه کس په وړاندې ادب څرګندول، د هغو د سپکاوي تر ټولو ډادمنه لار ده.

۴- ټول کولی شي ما خوشحاله کړي، خو هيڅ شی نه شي کولی، زما غم له منځه يوسي.

## د ګوګل يو څو غوره خبرې:

۱- د انسان ژبه هغه مار دی، چې خپله انسان چيچي.

۲- هر څومره چې عقل او پوه زياتيږي، انسان هغومره احتياط کاره کيږي.

۳- د مور او پلار لومړی دنده د خپلو اولادونو د استعداد کشفول دي.

۳- پسرلی هم د نورو موسمونو په څير دی، موږ په تبليغ کې افراط کړی.

۴- يو بې ځايه شک، زيات پر ځای او پر حق تصميمونه خاورې کوي.

۵- د ژوند په ډګر کې خپله هڅه وکړه، که بريالی نشوې، لږ تر لږه خپل وجدان ته خو به ملامت نه يې.

## د بیر تولت برشت غوره خبرې:

۱- یو انسان په حقیقت کې هغه وخت مړ دی، چې هیڅوک یې په اړه فکر نه کوي.

۲- خطا که په ناپوهۍ کې وشي اشتباه او که په پوه کې وشي، تباهي ده.

۳- کله چې بې عدالتي بیا بیا تکراریږي، په ټولنه کې ورو ورو د عدالت په بڼه منل کیږي.

۴- هغه وخت چې ویل کیدل به، چې له خپلو ګاونډیانو سره مینه وکړئ، ګیډې مړې وې. زموږ په وخت کې خبرې نورې دي.

۵- هیڅ ازموینه نشته چې په هغه کې درغلي نه وي، پرته له هغو ازموینې چې خدای تعالی یې له بنده ګانو اخلي.

۶- هر ځای په باغ بدلیدی شي که چیرې همت وي.

۷- هر څوک کولی شي، چې تهدید او رټل وکړي؛ خو هر څوک د تهدید او ړټلو حق نه لري.

۸- هغه خوښي چې د نورو په خپګان حاسلیږي ګناه ده.

۹- تاسو نشی کولی چې د ونو په اړه شعر ووایی کله چې ځنګلونه له عسکرو ډک وي.

۱۰- څوک چې د ظلم پر واړاندې نه متحد کیږي، د ظالم په زندانونو کې به له یو بل سره ملاقات کوي.

## د برنارد شاو غوره ویناوې:

۱- ډیر نصیحت مکوه؛ ځکه جاهل د چاه وینا نه اوري او عاقل ورته اړتیا نه لري.

۲- استعداد یعنې له خپل زور او عقل څخه هممهاله استفاده کول.

۳- بشر نن ددې لپاره ژوند کوي چې سبا ته لاس رسی پیدا کړي.

۴- سړي چې څه اوري له یوه غوږه یې دننه کوي او له بل نه یې وباسي، بلکې ښځې یې له دواړو غوږونو ننباسي او له خولې یې وباسي.

۵- نیکمرغي هره ورځ یوه دروازه ټکوي، لیکن له بده مرغه په دې وخت کې د کور خاوند د ګاونډي کره وي.

۶- د انسان طبیعت لټۍ او ټمبلۍ ته ور مات دی، ځکه انسان داتاً لټ او ټمبل موجود دی.

۷- که په یوه قضیه کې دوه کسه له کوم بحث څخه پرته پایلې ته ورسیدل، دواړه کم عقله دي.

۸- هیله درلودل نه یوازې د ځوانانو لپاره، بلکې د بوډاګانو لپاره هم عیب نه دی.

۹- د زړبوډۍ چاره یواځې صبر او تحمل دی.

۱۰- منطقي انسان له نړۍ سره ځان برابروي او غیرې منطقي انسان غواړي نړۍ له ځان سره برابره کړي.

۱۱- ژوند د ځان موندلو لپاره نه، بلکې د ځان جوړولو لپاره دی.

۱۲- ډیر خلک دوعا نه، بلکې سوال کوي.

۱۳- ډیر لږ خلک بې وزلي زغملی شي.

۱۴- کله چې انسان پړانګ ووژنې ورته ښکار واي او کله چې پړانګ انسان ووژني ورته وحشت وايي.

۱۵- څوک چې يو څه کولی شي کوي يې او څوک يې چې نشي کولی نيوکې پرې کوي.

۱۶- هيڅوک د تل لپاره خوشحالي نشي زغملی، که نه دنيا به ورته جهنم شي.

۱۷- هيله من يم چې زما وجود تر پايه ګټور وي او هلته مړ شم چې بې ګټې وم.

۱۸- له تجربې پوه شوم، چې انسان کله هم له تجربې څخه عبرت نه اخلي.

۱۹- تل رينتيا وايه؛ خو هر رينتيا مه وايه.

## د داستايوفسکي يو څو غوره جملې:

۱- چا چې په ژوند کې د ژوند لاره پيدا نکړه، هيڅ يې نه دي پيدا کړي.

۲- بد ګومانه هغه څوک دی، چې فکر کوي، د نړۍ ټول خلک د هغه بدي غواړي.

۳- مور، ته بايد د ژوند له معنا څخه ژوند ډير ګران وي.

۴- انسان هغه موجود دی چې له هر څه سره روږدی کيږي او زه فکر کوم، چې دا يې تر ټولو غوره ځانګړنه ده.

۵- د محکمي کار يوازې جزا ورکول نه دي، بلکې د برباد شوي انسان ژغورنه هم ده.

## د میترلینک غوره خبرې:

۱- راتلونکی وخت انسان ته ډیر مهم ښکاري؛ خو کله چې تیر شي؛ نو معلومه شي، چې څومره ده فکر کاوو، هغومره مهم نه وو.

۲- که برى په لومړي ګام لاس ته راتلی، هڅه او زيار به بې معنا وو.

۳- بیچاره شیطان هسې د ځمکې پر سر بدنام دی؛ ځکه له موږ څخه بل لوی شیطان نشته. ددې لپاره چې خپل ځان راته ښه ښکاره شي، ټولې کینې، دوښمنی او بې رحمۍ مو د شیطان په نوم په خپل ځان کې رانغاړلي.

۴- ډیره بده ده، چې انسان فکر وکړي، نړۍ دده لپاره نه دی پیدا شوې.

۵- ټول هغه څه چې راتلونکي نابغه ګان به یې وایي، همدا اوس زما او ستا په وجود کې دي؛ یواځې باید هغه را پیدا کړو.

۶- زه خو وایم، که مرګ په دنیا کې نه وای، انسانان به اړ وو، چې هغه را پیدا کړي، څو د ژوند له غچ اخیستنې ځان خلاص کړي.

۷- د مرګ په اړه تر ټولو ستره تیروتنه داده چې موږ فکر کوو، تیر کړي دودونه او غمونه مو له مرګ سره اړیکه لري؛ په داسې حال کې چې ټول دردونه او غمونه مو له ژوند سره اړیکه لري.

۸- که څه هم انسان اشرف المخلوقات دی، خو افسوس چې دی په خپله له ځانه د کثافاتو ماشین جوړوي.

۹- هغه لویان چې لوې برياو ته رسیدلي، تل یې په خپلو مغزو کې د نا څاپي پیښو لپاره ځانګړی ځای پرښی وي.

۱۰- د نړۍ پیښو ته یواځې د عقل او پوهې له کړکۍ مه ګورئ، د احساساتو ښنې او تیریدنې په سترګو هم ورته وګورئ.

## د تولستوي لنډې جملې:

۱- خدايه! ما د ډبرې پر ځير ويده کړه او د ډوډۍ پر ځير مې را پاڅوه.

۲- ټولې هغه معناوې چې سترې اغيزې لري، تل خورا ساده وي.

۳- نيکمرغه هغه څوک دی چې په خپل کور کې نيکمرغه وي.

۴- وختونه درومي؛ خو ويل شوې خبرې همداسې پاتې کيږي.

۵- دا ادعا چې حکومت د خلکو استازيتوب کوي، پوچ او ناسم خيال دی.

۶- لوی او نوميالي خلک هيڅکله نه مري، د هغوی قبرونه د راتلونکي نسل زړونه وي.

۷- هغه څوک له خپلې پوهې څخه ګټه تر لاسه کولی شي، چې په خپله پوه عمل وکړي.

۸- ښايست مينه نه زيږوي، مينه ښايست زيږوي.

۹- د هيچاه زړه مه خپه کوه؛ ځکه ته هم زړه لرې.

۱۰- که غواړې چې په نړۍ حاکم شې نو عقل پر ځان حاکم کړه.

۱۱- نيکي ټول ناوړه شيان په ګوندو کوي؛ خو خپله نه مغلوبيږي.

۱۲- ټول خلک غواړي چې بشريت ته بدلون ورکړي؛ خو افسوس هيڅوک په دې فکر کې نه دي، چې خپل ځان بدل کړي.

## د چیخوف غوره خبرې:

۱- تر ټولو خطرناک انسان هغه دی، چې عقیده یې زیاته او پوهه یې کمه وي.

۲- باید ومنو، د ځینو شیبو په خاطر ارزي، چې انسان میاشتې او کلونه له لاسه ورکړي.

۳- ژوند دومره لنډ دی، چې د مختلیفو باورونو ازمویلو ته یې فرصت نشته.

۴- هیڅ کار په بشپړ ډول زموږ د هیلې او غوښتنې مطابق نه تر سره کیږي.

## د ګورکي څو لنډې ویناوې:

۱- یوازنې خلک چې د خپلو خدمتونو په مقابل کې، د مننې او تشکري تمه نه لري، هغه مور او پلار دي.

۲- کله چې له خپلې دندې سره مینه لرې، کار تفریح ده.

۳- ډیر کله چې انسانان په شخړه کې سره پورته کیږي، د حقیقت د کشف لپاره نه وي، د هغو د پټولو لپاره وي.

۴- یوازې هغه څوک له خپل وجدان څخه نه شرمیږي، چې ځان یې د دروغو او بې شرمۍ په زغرو کې پیچلی وي.

۵- یو ښه معلم باید په عین حال کې یو ښه شاګرد هم وي.

## د امرسن غوره خبرې:

۱- هر څوک چې راسره مخامخ کیږي، په یوه لحاظ رانه برتري لري، زه هڅه کوم له همغه څه نه چې تر ما برتری لري، یو څه زده کړم.

۲- هغه څوک چې هره ورځ په یو ډار برلاسی نه شي، د ژوندانه لوست یې نه دی زده کړی.

۳- سلا او مشوره یو داسې هنر دی، چې تاسې د هغو په مرسته هر څوک خپلې همکارۍ ته رابولئ.

۴- په یوه دقیقه غوسې سره، شپېته ثانېې خوشحالي له لاسه ورکوې.

۵- ناپوه خلک په چانس باور لري، هوښیار او اراده من خلک په علت او معلول.

## د آلن پو، غوره ویناوې:

۱- د کمزورې ارادې ښتن هغه څوک دی، چې هره ماته او ناکامي یې فکر او نظر وربدلوي.

۲- ډیر ژر قوت ښکارول د ویرې نښه ده.

۳- انسان هیڅکله ان مرګ ته نه تسلیمیږي، خو هلته چې هوډ او اراده یې کمزورې شي.

۴- حماقت د غلط فکر کولو یو استعداد دی.

۵- ما ځان په دې قانع کړ، چې کله هم قناعت ونکړم.

## د مارک ټواین یو څو غوره جملې:

۱- مهرباني یوه داسې ژبه ده، چې کوڼ يې اوري او ړوند يېويني.

۲- له احمقانو سره هيڅکله بحث مه کوئ، هغوی لومړی تاسې خپلې سطحې ته ښکته راولي او بيا د خپل يو عمر احمقانه تجروبو په شوماشور کې تاسې ته ماته درکوي.

۳- مالګه غذا خوندوره کوي او شوخي ژوند؛ خو په دې شرط چې هيڅ يو يې له اندازې څخه زيات نشي.

۴- ژوند به بې کچې خوشحالوونکی وای، که چيرې په اتيا کلنۍ کې نړۍ ته راتلی او په تدريج سره اتلس کلنۍ ته رسيدلی.

۵- هر څوک غواړي چې جنت ته ولاړ شي، مګر هيڅوک نه غواړي چې مړ شي.

۶- سياستمداران او د ماشومانو پرتوګان بايد ژر ژر بدل شي، دواړه په يو دليل...!

۷- ښه دا ده، چې خوله بنده وساتې او ټول دربانديې د احمق ګومان وکړي، تردې چې خوله خلاصه کړې او ټول ګومانونه په يقين بدل کړې.

۸- د نړۍ تر ټولو خطرناک ځای بستره ده، ځکه د نړۍ په سلو کې نوي انسانان همدلته ساه ورکوي.

## د همینګوې غوره جملې:

۱- زه پوهیږم چې د هوښیارو خلکو خوشحالي کمه وي.

۲- انسان د کامیابی لپاره پیدا شوی دی، هغه له منځه ولاړلی شو؛ خو ماتې نشو ورکولی.

۳- اوس ددې وخت نه دی، چې د شي په نه لرلو فکر وکړئ، باید په دې فکر وکړئ، په هغو شیانو چې لرئ یې، څه شی سرته رسولئ شئ.

۴- په نړۍ کې دوه ډلې خلک دي، چې هیڅکله تغیر نه کوي، ستر عاقلان او ټیټ بې عقلان.

۵- اړتیا نشته چې انسانان وازمایئ، لږ صبر وکړئ، په خپله ازموینه درکوي.

۶- انسان دوه کاله اړتیا لري، چې خبرې کول زده کړي او پنځوس کاله اړتیا لري چې چوپ اوسیدل زده کړي.

## د رابرټ یو څو خبرې:

۱- فکر کول موافقت یا مخالفت نه، بلکې رایه ده.

۲- د کار په پرتله د تشویش له امله د ډیرو خلکو د مړه کیدو لامل دا دی، چې خلک د کار په پرتله تشویش زیات کوي.

۳- مور شل کاله زیار باسي، چې له خپل زوی نه سم سړی جوړ کړي؛ خو یوه ښځه په شلو دقیقو کې ورنه احمق جوړي.

## د ویلیام فاکنر یو څو غوره ویناوې:

۱- څوک چې غرونه بې ځایه کوي، د کوچینیو ډبرو له پورته کولو څخه پیل کوي.

۲- ددې لپاره ځان ته زحمت مه ورکوئ، چې له پخوانیو او خپلو همعصرانو څخه غوره شئ، هڅه وکړئ چې له خپلو ځانونو څخه ښه شئ.

۳- لیکوال ته نه ښایي چې له خپلو تر سره کړو چارو راضي ووسي، ځکه لیکنې هیڅکله هم لکه څنګه چې باید ښې وي، هسې نه وي.

## د سټاین بیک څو مهمې خبرې:

۱- د خپل کوښښ او تلاش مریدان شئ، نه د امید او هیلو.

۲- موږ د امنیت د تینګښت لپاره کوو او کله چې یې لاسته راوړو، ور څخه کرکه کوو.

۳- زړښت په کال نه دی، په حال دی.

۴- هیڅوک هم نصیحت نه خوښوي، یوازې همکاري غواړي.

۵- انسان یواځنی ژوی دی، چې په خپله ځان ته دام ږدي.

## د ماکېز غوره خبرې:

۱- هیڅکله د هغه چا لپاره وخت مه ضایع کوه، چې ستا لپاره وخت نه لري.

۲- یو شمیر دومره نورو ته وفادار دي، چې له ځان سره خیانت کوي.

۳- هیڅوک ستا د اوښکو د تویېدلو ارزښت نه لري او څوک یې چې لري هغوی ستا د اوښکو د تویېدو لامل نه وي.

۴- په حقیقت باندې سترګې پټول، حقیقت ته بدلون نه ورکوي.

۵- وړې پریکړې باید په مغزو وکړو او لویې پریکړې په زړه.

۶- له هغو چا سره دایمي اوسیدا سخته ده، چې په دردونو او غمونو دې نه پوهیږي، خو ستا دوستان وي.

۷- د چې څو کلن یې ستا عمر نه دی. څو کاله یې احساسوې؟ دا ستا عمر دی.

۸- وخت هیڅکله د چا درد نه دی درمان کړی، دا موږ یو چې د وخت په تیریدو سره له خپلو دردونو سره عادت کیږو.

۹- دا چې خپله تږوله مینه او وفا له یو چا سره وکړې، دا ددې ضمانت نه کوي، چې هغه هم دا کار تر سره کړي.

۱۰- ژوند هغه نه دی، چې تیر شوی دی، هغه دی چې زموږ په یاد پاتې دی.

## د پاولو کو یُیلو غوره ویناوې:

۱- که غواړې بریالی شې؛ نو باید یوه قانون ته درنښت وکړې: هیڅکله ځان ته دروغ مه وایه.

۲- د ژوند راز دادی چې اوه ځلې ولویږې او اته ځلې پاڅیږې.

۳- څوک چې زما لپاره غلا کوي، ښایي زما نه هم غلا وکړي.

۴- زیات ډارن خلک نه ماتې خوري او نه بریالي کیږي.

۵- زړور واوسه، خطر ومنه، هیڅ شی نه شي کولای د تجربې ځای ونیسي.

# پای

## ګرانه لوستونکیه!

**ستا در بریا په هیله.**

که telegram لرې دغه رنګ او په سلګونه نور بيلابيل کتابونه زما چينل کي پيدا کولای شئ. زما د چينل لينک 👇👇

Https://t.me/zarifzazay

@zarifzazaiktabtoon




په تلګرام کي زما چينلونه تعقيب کړئ.

په فسبوک کي مي تعقيب کړئ.




https://t.me/zarifzazay

# د دعا محتاج ظريف ځاځی